مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۳/۰۳

# د افغانستان بایوگرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (دولسمه برخه)

### حفیظ الله امین

حفیظ الله امین په ۱۹۲۹ز کال کې د کابل ولایت د پغمان په ولسوالی کې زېږېدلی دئ. پلار ئې حبیب الله نومېدهٔ (چې د صدراعظم محمدهاشم پر مهال د محبس رئیس وو). امین د غلزیو د خروټو له قبیلې څخه دئ چې کورنی ئې د نولسمې پېړۍ په ترڅ کې پغمان ته راغله. امین خپلې ابتدایي اوثانوي زده کړې په پغمان کې بشپړې کړې او د کابل له دارالمعلین څخه فارغ سو. له فراغت وروسته د کابل پوهنتون د ساینس پوهنځي کې شامل سو او خپل لیسانس ئې په ریاضیاتو او فزیک کې تر لاسه کړ. له فراغت وروسته په کابل کې لومړی د ابن سینا د لیسې ښوونکی او وروسته ددې لیسې مرستیال مدیر سو. په ۱۹۵۷ز کال کې د امریکا متحده ایالاتو ته لاړ او خپله ماستري ئې د کولمبیا له پوهنتون څخه د ښووني او روزني په برخه کې تر لاسه کړه. کله چې افغانستان ته راستون سو د کابل پوهنتون د ښووني او روزني په پوهنځي کې د «پوهنیارۍ» په علمي رتبې سره د مدرس په توګه مقرر سو. له دې ځایه وروسته د ابن سینا د لیسې د مدیر په توګه مقرر سو او وروسته د کابل د دارالمعلمینو د مدیر په توګه مقرر سو. امین تر لنډې مودې پورې په دې مقام پاتې سو او بیا د معارف په وزارت کې د ښوونکو د روزني د نوي رامنځته سوي دیپارتمنت د غړي په توګه مقرر سو. په ۱۹۶۲ز کال کې د امریکا متحده ایالاتو ته د دکتورا د ترلاسه کولو لپاره ولېږل سو. په ۱۹۶۳ز کال کې د افغان محصلینو د اتحادیې په کلنۍ غونډې کې امین «د خپل شدید پښتـني ناسیونالیزم له کبله» د اتحادیې د رئیس په توګه انتخاب سو. ددې مقام په تر لاسه کولو سره د امین سیاسي فعالیتونو د پام وړ ډېروالی وموند او د تحصیل په برخه کې ئې انقطاع رامنځته سوه چې په ۱۹۶۵ز کال کې افغانستان ته راستون سو. امین د یوهٔ کال لپاره د رابعهٔ بلخي په لیسې کې درس ورکړ او د راتلونکو درې کالو لپاره ئې د معارف په وزارت کې د ابتدایي تدریساتو د ریاست د غړي په توګه کار وکړ. ویل کېږي چې امین په همدغهٔ وخت کې مارکسیست سو. امین د ولسي جرګې د دیارلسمې دورې د ټاکنو لپاره له پغمان څخه د کاندید په توګه ودرید او د خلق د ډیموکراتیک ګوند د غړي په توګه ئې یوه څوکی وګټله. د سلطنت له سقوط وروسته هغه د ګوند په ټولو برخو کې په ځانګړي توګه د وسله وال ځواک په منځ کې د کار کولو لپاره فعاله کار پیل کړ چې ددغو ټولو هڅو پایله د ۱۹۷۸ز کال د اپریل د میاشتې په ۲۷ نېټې په پاڅون واوښتله. د ۱۹۷۸ز کال د مي د میاشتې په اتمې نـېـټې د افغانستان ډیموکراتیک جمهوریت لومړی کابینې چې د نور محمد تره کي له خوا جوړه سوه په کې حفیظ الله امین د صدراعظم مرستیال او د باندنیو چارو د وزیر په توګه وټاکل سو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

د ۱۹۷۸ز کال د جولای د میاشتي په اتمي نېټي د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټي سیاسي بیرو امین د مرکزي کمیټي د سکرتریت د منشي په توګه وټاکـۀ. حفیظ الله لومړنی څوک وو چې د ۱۹۷۸ز کال د نوامبر په ۷ نېټي ئي اعلان وکړ چې "زموږ انقلاب د ستر لینین د ۱۹۱۷ز کال د انقلاب دوام دئ". د ۱۹۷۹ز کال د اپریل په میاشت کي صدراعظم او د باندنیو چارو وزیر. د ۱۹۷۹ز کال د سپتمبر د میاشتي په ۱۶ د نور محمد تره کي له خلع ید وروسته ولسمشر. د ۱۹۷۹ز کال د دسمبر د میاشتي په ۲۷ نـېـټي کله چې د پرچم فرکسیون واک ونیو حفیظ الله امین ووژل سو.

حفیظ الله امین وادۀ کړی او درې زامن او څلور لورګاني لري. مورنی ژبه ئي پښتو وه.

### حمیدالله امین

د امین الله زوی. په ۱۹۴۱ز کال کي زېږېدلی دئ. د حبیبي په لیسي کي ئي زده کړې تر لاسه کړي دي؛ په ۱۹۵۹ز کال کي ئي د کابل پوهنتون د ادبیاتو له پوهنځي څخه ئي لیسانس تر لاسه کړی دئ. په ۱۹۶۷ز کال کي ئي د "برتش کنسول" [1] د بورسیي تر سیوري لاندي ئي د "انګلستان د دُرهم" [2] له پوهنتون څخه په جغرافیي کي ماستري تر لاسه کړې له ۱۹۶۳ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د جغرافیي پوهیالی او پوهنوال. د اقتصادي جغرافیي او د افغانستان د باندنی سوداګرۍ په اړوند د لیکنو مؤلف. له ۱۹۷۵ تر ۱۹۷۶ز کال پورې د نبراسکا د یوتا په پوهنتون کي مېلمه استاد. د ۱۹۷۸ز کال له جنورۍ تر اپریل پورې د کابل پوهنتون رئیس او په پای کي د جغرافیي پوهاند.

## محمد انور امین

د کادمیش په درې کي د نورستان د اسلامي جهاد د جبهي مشر

## محي الدین امین نوابي : وګورئ : نوابي

## قاضي امین

د ګلب الدین حکمتیار مرستیال. ویل کېږي چې اوس ئي په حزب اسلامي کي خپل مستقل دریځ نیولی دئ.

## رسول امین

د محمد امین زوی په ۱۹۳۸ز کال کي د کونړ په وټه پور کي زېږېدلی دئ. (محمد امین د صافیانو یو خان وو چي کورنی ئي په ۱۹۴۷ز کال کي د صافیانو له پاڅون وروسته هرات او مزار شریف ته تبعید سوه). په ۱۹۶۰ز کال کي د پېښور اسلامیه کالج کي ومنل سو. له ۱۹۶۲ – ۱۹۶۳ز کال پورې د خیبر اتحادیي د سکرتر جنرال په توګه وټاکل سو. په ۱۹۶۶ز کال کي ئي خپله ماستري په سیاسي علومو کي د پېښور له پوهنتون څخه تر لاسه کړه. په کابل کي د پښتو ټولني / اکاډیمی غړی. په ۱۹۶۸ز کال کي د کابل په پوهنتون کي د ټولنیزو علومو په پوهنځي کي څېړونکی او استاد. په ۱۹۷۴ز کال کي په دنمارک کي د (موسګارد په انستیتیوت)[3] کي مېلمه استاد. په ۱۹۷۶ز کال کي د کابل پوهنتون د ټولنیزو علومو د پوهنځي رئیس. په ګڼ شمېر نړۍ والو کنفرانسونو کي ئي ګډون کړی دئ. د ۱۹۷۹ز کال

---

[1] - British Council grant
[2] - University of Durham, United Kingdom
[3] - Mosgaard Institute Dennmark


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیز بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

د اپريل په میاشت کې زنداني سو او په ۱۹۸۰ز کال کې له خپلي کورنی سره پاکستان ته لاړ. په ۱۹۸۰ز کال کې د افغانستان د ملي اسلامي محاذ د مهاجرو د کمیټې مشر. له ۱۹۸۲ تر ۱۹۸۵ز کال پوري د سید احمد ګیلاني سلاکار. په پېښور کې د آزاد افغانستان د لیکوالانو «وفا» [4] مدیر.

## سید امان الدین امین

په ۱۹۳۱ز کال کې د کابل د اندرابیو کې په یوې سید کورنی کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۰ز کال کې د نجات له لیسي فارغ سوی دئ. د ملي بانک د سکالرشیپ پر بنسټ جرمني ته لاړ. د ګلبهار او پلخمري د نساجي په فابریکو کې ئـې کار وکړ. په ۱۹۸۰ز کال کې د نساجي د فابریکي رئیس. په ۱۹۸۲ز کال کې د خوراکي توکو او سپکو صنایعو د وزارت مرستیال وزیر. مورنی ژبه ئـې دري ده. په ۱۹۸۵ز کال کې د وزیرانو د شوری مرستیال رئیس. د مشورتي اقتصادي شوری غړی. د ګوند غړی نـهٔ دی.

## محمد شریف امیني

په ۱۹۲۷ز کال کې په خوګیانیو کې زېږېدلی دئ. د محمد امین زوی. په ۱۹۵۰ز کال کې ئـې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي څخه لیسانس تر لاسه کړی دئ، په ۱۹۶۷ز کال کې ئـې د امریکا د متحده ایالاتو د سویلي کالیفورنیا له پوهنتون څخه په ادارهٔ عامه کې ماستري تر لاسه کړې ده. د پېنځلسو کالو لپاره د ولایتونو والي وو. د کورنیو چارو د وزارت د احصائیې د ریاست عمومي رئیس. د کورنیو چارو د وزارت د «ملکي خدماتو د زېږېدنو، ودونو او د مړینو د ثبت» [5] د ریاست مشر. د څو بېلابېلو اثرونو مؤلف. مورنی ژبه ئـې پښتو ده.

## محمد صدیق امیني

د غوايي له پاڅون وروسته د «غوراش» [6] محرر چي یوه تورکمني خپرونه ده.

## ډاکټر امین الدین

په بدخشان کې زېږېدلی دئ. لومړنی زده کړې ئـې په بدخشان کې تر لاسه کړې دي بیا د کابل د کرنې له لیسې څخه او د کابل پوهنتون د کرنې له پوهنځي څخه د لیسانس په درجې فارغ سوی دئ. خپله دکتورا ئـې له شوروي اتحاد څخه تر لاسه کړې ده. د کابل پوهنتون د وترنري طب د پوهنځي استاد، مرستیال رئیس او رئیس.

## محمد عثمان امیر

په ۱۹۰۲ز کال کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۲۰ز کال کې د باندنیو چارو وزارت کې شامل سوی دئ. په ۱۹۲۱ز کال کې په هندوستان کې قنسل. په ۱۹۲۳ز کال کې د کود، پروتوکول او د ویزې د څانګې مدیر. په ۱۹۲۷ز کال کې په بمبئـي کې قنسل. په ۱۹۳۰ز کال کې په تهران کې قنسل. په ۱۹۳۶ز کال کې د کابل ښاروالی منتخب ښاروال. په ۱۹۴۸ز کال کې په روم کې افغان وزیرمختار. له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۶ز کال پورې د باندنیو چارو د وزارت مرستیال وزیر. په ۱۹۵۷ز کال کې په ایران کې افغان سفیر.

---

[4] - Writer Union of Free Afghanistan (WUFA)

[5] - Civil Registration in the Ministry of Interior

[6] Ghorrash

**صفر علي امني**

د جمعه زوی، جمعه د امير محمود زوی په ۱۹۱۱ز کال کې په هرات کې زېږېدلی دئ. خصوصي زده کړې ئې کړي او تر اتم ټولګي پورې ئې رسمي زده کړې کړي دي. له کورنی جګړې وروسته کابل ته ولېږل سو او په ۱۹۳۳ز کال کې د کابل له دارالمعلمينو څخه فارغ سو. په هرات کې ښوونکی. د مجلات ِ بلديه رسمي ليکوال. تر ۱۹۳۹ز کال پورې د مجلات هرات مدير. د «ډيپوې تعاوني» مأمور او د هرات او جنګلک د امنيت د مديريت مأمور.

**اناهيتا راتب زاد** : وګوری : اناهيتا راتب زاد

## نور بيا

**ډاکټر محمد انس**

د امير دوست محمد خان له اعقابو څخه د محمد يونس زوی...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلی رحمت آريا د آرشيف: لينک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ